مصطفی پسرلی ۲۰۱۸/۰۹/۰۹

# زه د یقین په لاره تللی نشم
# نظم

رنګ د دنیـا پـه تهمـتونـو شومه    مست د جنون په شرابونـو شومه
زه د یقیـن پـه لاره تـللـی نـشم    زه چې روان په اټکلونو شومه

** * **

ننګ او غیرت دوران تیر شوی په ما    د تجسس جهان تـیـر شوی په ما
ما ته ارمان اوس د ارمان نه راځي    زیری د جنګ او د زخمونو شومه
زه چي روان په اټکلـونـو شومه

** * **

څلانـده ستوری، زلـزله ومه زه    ښکلی احساس او ولوله ومه زه
وم بي ګناه خو ګناهکار ښکاریدم    چـغـه د درد او د آهـونـو شومه
زه چي روان په اټکلـونـو شومه

** * **

هـوس د حـورو ته په دار وختم    په بي شرمی او ښه په جار وختم
داخیل جنت می په خپل لاس رنګ کړی    ګوزار له لویو ګرنګونو شومه
زه چي روان په اټکلونو شومه

** * **



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

د یار د مخ او د خال نشم لیکی          زه د سرو شونډو جمال نشم لیکی

د غم نغمې لا په غوږو کې لرم          زه د فریب او مکیزونـو شومه

زه چې روان په اټکلونو شومه

** * **